آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۰٤/۲۰

# آیا مونږ آزادي لرو؟

آزادی هسی یوه مقدسه کلمه او هسی یو ستر نعمت دی چی د انساني غوښتنو او اړتیاوو په لومړیتوبونو کی، تر ټولو لومړی ځای او تر هرڅه نه لوړ ارزښت لری. مکمل انسان هماغه انسان ته وایی چی آزاد او خپلواک وی. غني ټولنه او د کامل حیثیت لرونکی ملت هماغه ملت بللی شی چی آزاد وی. که په انفرادی توګه یو انسان آزاد نه وی، نو غلام ورته وایی او په ټولنه کی د غلام حیثیت د یوه حیوان نه زیات نه دی.

که ملت آزاد نه وی او د بل ملت تر ولکی او قبضی لاندی قرار ولری نو بیا دا ډول ملت د یوی حیوانی رمی او ګلی سره هیڅ توپیر نه شی لرلی.

په اوسنی وخت کی که د ځمکی د کُری نقشی ته و ګورو، نو په هره لویه وچه کی ګڼ شمیر هیوادونه وینو چی بیل نومونه لری، بیل بیرغونه لری، بیل حدود اربعه او د حکومتونو بیل طرزونه لری او دنیاوال یی د یوه خپلواک سیاسی واحد په توګه پیژنی، په دی هیوادونو کی پراته انسانان هم داسی فکر کوی چی دوی آزاد دی، خپلواک دی او د مستقل هویت لرونکی دی. چی دی تش په نوم مرموزی آزادی ته سیاسی آزادی او خپلواکی وایی چی د حقیقی آزادی سره ډیر توپیر لری.



حقیقی آزادی هغی آزادی ته وایی چی یوه ټولنه، یو ملت او یو هیواد په اقتصادی لحاظ په ځان متکی وی، د نورو هیوادونو سره د اړیکو په لرلو یا نه لرلو کی د بل هیواد په اشاره او فرمایش کار نه کوی او تر ټولو مهمه داچی د یوه مدبر ملی زعامت لرونکی وی او د ملی معضلو په حل کی رغنده پریکړی وکړلی شی.

زما په نظر زمونږ هیواد افغانستان د ۱۳۵۲ کال د سرطان د میاشتی تر کودتا وروسته چی د سردار محمد داوود په مشری تر سره شوه او د محمد ظاهرشاه د



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

سلطنت دوره یی پای ته ورسوله، ورسره سمه په دی هیواد کی د آزادی او خپلواکی کمپله هم ور ټوله شوه.
څکه چی دا کودتا د پردی ترشا د وخت د یوه زبرځواک یعنی پخوانی شوروی اتحاد په مرسته سرته رسیدلی وه، په دی مفهوم چی بی له سردار محمد داوود خان څخه نورو ټولو کودتاچیانو په پخواني شوروی اتحاد کی زده کړی کړیوی او د همدی د پاره روزل شوی وو چی په افغانستان کی یوه مطلق شوروی پلوه نظام او په یو داسی بی کفایته زعامت رامنځ ته کړ چی د شوروی اتحاد له خوښی پرته د ملی ګټو د تأمین په هکله هیڅ ډول پریکړه و نه شي کولی.
دا خبره هغه وخت ښه په ثبوت ورسیدله کله چی د جمهوری نظام مؤسس، احساساتی او جذباتی مشر سردار محمد داوود خان د شوروی اتحاد په شوم نیت و پوهیده او ویی غوښتل چی په مستقله توګه عمل وکړی او ددی کار لپاره یی د سیمی ځینو هیوادونو ته سفر وکه او دیو مستقل هیواد په توګه یی د نوری دنیا سره د اړیکو د برقرارولو تکل پیل کړ، نو د وخت د شوروی اتحاد مشرتابه دا و نه شوه زغملی او تصمیم یی ونیو چی دا یاغی څیره له صحنی



لری او پر ځای داسی یو نظام په افغانستان کی قایم کړی چی په مطلقه توګه دا هیواد په خپلو اقمارو کی ورګډ کړای شی.
د همدی فیصلی له مخی د ۱۳۵۷ کال د ثور د میاشتی په او مه نیټه د خلق دیموکراتیک ګوند په مشری چی د شوروی له اجازی پرته یی د اوبو ګوټ هم نه کاوه او حتی سا یی هم نه اخستله، بله نظامی کودتا ترسره کړه چی د بری سره سم یی دی هیواد هر ډول آزادی له لاسه ورکړه.
تردی غمجنی پیښی وروسته، دا په آزادی مین ملت کرار کیښینه ناست، بیا هم راپورته شو ملی مبارزه یی پیل کړه، په تش لاس د نړی د ترټولو نه د ستر نظامی زبرځواک په وړاندی د جنګ میدان ته را ووت، په میلیونو د وطن بچیان په شهادت ورسیدل او نور په میلیونو له خپل وطن نه و شړل شول، ټول هیواد په کنډواله بدل شو،

تر دولس کاله پرله پسی مبارزی نتیجه ورکړه، شوروی اتحاد مات شو، دړی وړی شو او په لسګونو پخوانی خوړل شوی ولسونه یی هم له نس نه را ووتل.

### خو په افغانستان څه وشول؟

نورو همسایه او ګاونډیو چی تر پخوانی شوروی ډیر کوچنی او کمزوری ول یعنی پاکستان او ایران، دی ملت ته یو داسی خرڅ شوی، بی ارادی، مزدور، بی کیفایته او جاسوس زعامت جوړ که چی هاغه پخوانی بی دینه زعامت ور باندی شرف لروده.

**بیا څه وشول؟**

د شومو اهدافو لرونکو ګاونډیو هیوادو پاکستان او ایران په دی نا اهله زعامت چی هیواد او دهیواد شتمنی یی ټولی پری لوټ او چپاول کړی هم دمه ونه شوه او د ټوټه ټوټه افغانستان د اداری، سراسری کنترول او واکداری په هیله یی د جهادی مشرانو د خپل منځی جګړو د جوړیدو نه غیر یی، د جاسوسی د سازمانونو په مرسته او ابتکار یی، د ساده ګانو یعنی طالبانو ډله را وزیږوله او په جنګ زپلی افغانستان یی داسی توره تیاره را خوره کړه چی د بیا رڼا کیدو ټولی هیلی یی له منځه یوړی.

بیا څه وشول؟

د سپتمبر د ۱۱ نیټی پیښه رامنځ ته شوه داچی څنګه رامنځ ته شوه زمونږ د موضوع نه د باندی خبره ده، خو و مو لیدل چی د دنیا یکه تاز زبرځواک یعنی د امریکا متحده ایالاتو د خپلو انډیوالانو سره یوځای په هغه افغانسان باندی د خپل تسلط د قایمولو او د خپلو ګټو د ساتلو دپاره حمله وکړه چی د شلو نه ډیر کلونه یی د جنګ په اورونو کی تیر کړی وو، دی هیواد په ژنیو کی د افغانستان د پاره یو نوی موقت زعامت و ټاکه، چی بی له طالبانو یی نورو ټولو ډلو ټپلو ته په سیاسی واکداری کی برخه ورکړه او دا ژمنه یی هم وکړه چی د وران افغانستان د بیا رغونی په لار کی به هر ډول مرستی جاری وساتی، ددی تغییر سره ددی هیواد په خلکو کی تر یوه حده پوری امید واری پیدا شوه چی دا د یو قطبه نړی زمامداران به په ریښتیا سره په دی هیواد کی د اوږدی تباهی او بربادۍ په ځای د آبادۍ او ددی با ایمانه ملت سره د جنګ جګړو په ختمولو کی مرسته وکړی.

**ولی څه وشول ؟**

دی نوی ښامار ددی غیور ملت نه، دوی ته ورپاتی افغانی پت او غیرت هم لوټ کړ او دا میرنۍ ولس یی د ټولنیز فساد په داسی نا علاجه او ساری ناروغۍ اخته کړ چی تر پیړیو پیړیو پوری به له دی ناولی رنځ څخه نجات ونه شی میندلی. اوس وینو چی ددی ملت د فقر او ناداری لاسونه ټولې دنیا ته ور اوږده شوی او تقریباً ټول ملت د تمې (طمعی) په تنابونو کی را ښکیل شویدی. په حقیقت کی دا غیرتمن ملت اوس د هغه ستر ښامار ستری خیټی ته ور لویدلی دی چی د ټولی ځمکی غرونه او سمندرونه پکی ځاییدلی او هضمیدلی شی.

له دی سره سره زمونږ ګاونډی هیوادونه پاکستان او ایران لا هم غواړی چی ددی چپاول شوی هیواد یعنی افغانستان په سیاسی او فرهنګی سرنوشت باندی تلسلط ولری اوله بده مرغه دا تسلط دیوی ورځی نه بلی ته لا پسی زور اخلی او نژدی دی چی هر څه له لاسه ورکړو. د ملی زعامت د نشتوالی له کبله، اوس زمونږ هیواد په داسی حالت کی قرار لری لکه د یوی میاشتنی ماشوم، که دی ماشوم ته چا غذا ورکړه خو ژوندی به پاتی شی او امکان لری چی لوی به شی، کره او پوره به شی او د مستقل هویت لرونکی به شی، او که چا یی لاس نیوی ونه کړ نو بیایی د موجودیت تمه لرل هم سم نه ښکاری. خو کله که دا ملت، یو واحد ملت شو، کله چی د یوه مدبر او خپلواک ملی زعامت لرونکی شو او کله چی یی د خپلو ملی معضلو د حل د پاره د خپلو خلکو په ملاتړ اقدام وکړ او د پردیو پرځای یی په خپلو ولسونو اعتماد او باور پیدا کړ، نو بیا به هله وایو چی مونږ آزاد یو، خپلواک یو او پخپله د خپل برخ لیک جوړونکی یو او که دا اوسنی حال وی نو نه آزادی شته نه خپلواکی، نه مونږ یو ملت یو او نه یو مستقل هیواد، او دا ځکه چی

زمونږ هیواد او موجوده دولت ددی توان نه لری چی خپلو دولتی کارمندانو ته حتی دیوی ورځی معاش هم ورکړای شی، په دی وطن کی هیڅ ډول قانون نه مراعات کیږی، قابو نیمایی اطباع یی په جلا وطنی او مهاجرت کی ژوند کوی، دوه فیصده خلکو ته پکی د کار کولو زمینه نه ده برابره، د ټولنیز فساد په لرلو سره د ټولی دنیا د هیوادونو په سرکی قرار لری، د فقر، نادارئ او ناروغی درجه پکی د ټولی نړی نه لوړه ده، د نیم نه زیات واکداران یی نورو ته په جاسوسی متهم دی، ټول هیواد دداسی نا امنی سره مخامخ دی چی هیڅوک په هیڅ ځای کی مصونیت نه لری، د ګدایی او درویزی لاسونه مو ټولی دنیا ته غزیدلی دی او تر ټولو د شرم خبره لا داچی د یوه پاچا په ځای پکی د همدی لوی ښامار په پریکړه دوه د مساوی قوت او قدرت لرونکی پاچاهان، چی په هره لویه او وړه خبره سره غیږ په غیږ دی پاچاهی کوی، ملت ته درواغ وایی، دوکی ورکوی او په خپلو خلکو هیڅ ډول اتکا نه لری. نو داسی یو بی سره او بی سامانه ملک چی د هر ډول ټولنیزو رنځونو نه ډک وی، په لسکونو ولسوالی یی د مخالیفینو او که په سمه توګه وویل شی د ګاونډیو هیوادونو له لوری اداره کیږی او د نیم نه په زیات هیواد کی د پردیو پیسي په چلند کی وی او بیا هم د آزادی سندری وای او د آزادئ ادعا کوی آیا دا تاسو ته سمه بریښی؟
زما له نظره مونږ زیاتو کم ځلوبښت کاله پخوا آزاد وو، خو تر هغی را وروسته نه یو.

چی د تخت د پاسه ناست وی او غلام وی — له دی هسی پاچاهـی نـه غربت ښه دی
چـی د بـل په اراده ځوک حرکت کړی — له دی ژوند ه ورته مرګ د عزت ښه دی

تـه د کومـی آزادي سـندری وایــی
زه خو نـه لـرم اختیار د خـپل کالـه

تورنتو / کانادا . اګست / ۲۰۱۵